# د یو ښکر لرونکي آس نکل (قصه)

## لومړۍ برخه

### یو ښکری آس د آس سپورو جګړه مارو په کلا یا قلعه کې

یو بډایه آس سپور ډېر آسونه د هغې په غوجله کې لرل. هغې به په دې ډېر ویاړ (افتخار) کاوه او لا نور آسونه یې هم غوښتل چې ولري.



یوه ورځ دا بډای د خپل دوه چوپړانو (نوکرانو) سره د ځنګل په منځ کې په آس روان وو. هلته د یو یوښکري آس سره مخ شول. دې بډای خپلو دواړو چوپړانو ته امر وکړ چې دا آس ونیسي او د ځان سره یوسي.



کله چې دا یې ونیوه، نو بیا دغې یو ښکر لرونکي آس خپل ځان په دغه کلا کې ښه نه احساسولو. دې آس نه خوراک کولو ، نه یې څه څښل او نه یې څوک ځان ته نږدې پرېښودل.



د آس په دغه چلند بډای ډېر مایوسه شو او امر یې وکړ چې دا د غوجل په یو تورتم ځای کې وتړي.



د دوبي په یو روښانه سهار کې د دغه بډای سرې لور (ایلیزا ) د غوجل هغه ځای ته راغله، کوم چې پکې یو ښکری آس بندي تړل شوی وو. کله چې دغې نجلۍ دا یو ښکری آس ولید ، بیا دا آس ددې نجلۍ ډېر خوښ شو.



دا په ډېر پام سره ننوتله او د آس په غاړه یې ډېر په مینه لاس راښکه او په غوږ کې یې ورته څه وویل.



دې آس د غږ سره یوځای ساه راښکله او خپل سر یې را ټیټ کړ.



ایلیزا په‌آس سپره شوه او د کلا د لویې دروازې څخه مخ په ځنګله روانه شوه. د سپرو جګړه مارو بډایه مشر او د هغه کارکوونکو دغه دواړو ته په حیرانۍ سره کتل.



د ځنکله تر خوا په یوې شینلۍ کې، چېرته چې یوه ویاله هم بهېدله، دا یوښکری آس ودرېد. هلته یې خوندوره واښه وخوړل او تازه اوبه یې وڅښلې.



ایلیزا د آس سر نه را کوځه شوه او ویې ویل:

« ځه منډه کړه، ته نور ازاده او خپلواکه یې !» دلته یو ښکری آس په ډېرې خوښۍ سره منډې کړې.



ایلیزا د خپل پلار کلا ته بېرته پیاده راستنه شوه.



## دوهمه برخه

## تور یوښکری آس



د یوې یوښکري آسونو کورنۍ درې بچي لرل. په دې درېواړو کې دوه مشران یوښکري آسونه لکه د خپل مور او پلار په شان سپین وو. خو دا وړوکی آس تور وو. دغه تور رنګ ددې آس نه خوښېده. کله چې هغې خپل انځور د ډنډ په اوبو کې ولید، دا د وېرې ژر بېرته شاته شو.



او کله چې د خپل ورور او خور سره په ځنګله کې منډې وهلې، نو هغه به د خپل تور رنګ سره شرمېده.



یوه شپه دا تور یونیکری آس په ډېر کراره او پټ د خپلې کورنۍ څخه روان شو.



دې آس ډېر کوښښ وکړ چې سپین شي. دې په ډنډ کې ځان وینځلو چې دا تور رنګ ورڅخه لرې شي.



دا به په شینلۍ کې پریوت او ځان به یې دېخوا او هغه خوا اړوو چې سپین شي.



دې تور یوښکري آس د ځان پوټکی د یوې ځیږې ونې سره سولولو.



خو ددې بې وزلي آس ټوله خواري بېځایه وه ! بیا نو د ځنګله په یوې ځنډې کې دا ستومانه او خپه پریوت.



په دغه وخت کې یوه ښاپېرۍ تېرېدله. کله چې ښاپېرۍ دا آس ولید ، ودرېدله او ویې ویل:

« دا سې یو ښکلی حیوان لکه تا په شان ما هیڅکله نه دی لیدلی !»

یوښکري آس اسوېلی وکړ او ویې ویل:

« خو زه تور یم !»





ښاپېرۍ ځواب ورکړ:
« هو ، ته یو څه فوق العاده یې ! نو ځکه ته نظر نورو ټولو حیواناتو ته ډېر ښکلی یې !»



د ښاپېرۍ په دغې خبرې تور یوښکری آس ډېر خوشحاله شو. دا د ښاپېرۍ سره پاتې شو او ښاپېرۍ پر آس سپره شوه او د ځنګله په منځ کې ګرځېدل. ښاپېرۍ وویل:
« دا سې یو د سپرلۍ حیوان لکه ستا په شان زما د ډېر وخته ارمان وو !»



د ریمه برخه

## شهزاده او یو ښکری آس



یو وخت یو پاچا وو. د هغې یوه ښکلې لور وه. ډېری شهزاده ګانو غوښتل چې د دغې شهزادګۍ سره واده وکړي.



خو دغې شهزادګۍ به ویل:
« زه غواړم چې زه خپل ځان ته خپله یو خاوند ( مېړه ) ولټوم !»

په دغه وخت کې پاچا دولس (۱۲) شهزاده ګان خپلې ماڼۍ ته مېلمانه کړل.
يولس (۱۱) شهزاده ګان پر خپل نورمال آسونو سپاره راغلل. دولسم شهزاده پر يو يوښکري آس سپور راغی.



شهزادګۍ ټولو شهزاده ګانو ته په مينه لاس ورکولو سره ښه راغلاست وويل. دې نه وروسته شهزادګۍ د هر شهزاده سره ځان ځان ته د قصر په پارک کې په چکر شوله.



په دغه شهزاده ګانو کې د ټولو نه د یو ښکري آس شهزاده د شهزادګۍ ډېر خوښ شو.
خو د بده مرغه دې شهزادګۍ خپله مینه شهزاده ته نه ښودلی شوه او نه یې وېلی شو.
دا شرمېدله.



شهزادګۍ خپلې کوټې ته ولاړه او هلته په ژړا شوه.



لږ وخت وروسته شهزادګۍ ته یو فکر راغی. دا په منډه خپل پلار ته ولاړه او هغه ته یې خپل پلان وویل.



پاچا په خندا شو او خپل سر یې د هوکړې د پاره ټيټ کړ.
د پاچا په امر شهزاده ګان د خپلو آسونو سره خپل ځانونه د قصر په حویلۍ کې تنظیم کړ.



شهزادګۍ د برنډې (بالکون) څخه غږ واچولو:
« هر هغه چا چې زما د لاس دغه بنګړی یا کړۍ ونیولی شوله، هغه به زما راتلونکی خاوند (مېړه) وي.»



یولس (۱۱) شهزاده ګانو خپلې نېزې او برچې برابرې کړې. خو فقط د یو ښکر لرونکي آس شهزاده ارامه پر خپل آس ناست وو.



شهزادګۍ د لاس بنګړی راوویست او لاندې شهزاده ګانو ته یې ګزار کړ.



په دغه وخت کې د آسونو تر منځ یوه ګډوډي منځ ته راغله. خو یو ښکر لرونکي آس خپل سر پورته کړ او دغه بنګړی یې د کومې ستونځې په خپل ښکر کې ونیو.



شهزادګۍ په منډو راښکته شوه، دآس په غاړه یې لاس راښکه او د شهزاده په غېږ کې راتاوه شوه.




بیا نو په قصر کې ددې دواړه یو د ځلا او ښکلا نه ډک (شانداره) واده ونیول شو.

## څلورمه برخه

## يوښکرى آس او ښکاري



يو وخت په يو ځنګله کې يو يوښکري آس ژوند کاوه. دغه ځنګل نظر نورو ځنګلونو ته ډېر ښکلی وو.



د ځنګل هرې خوا ته چې به دا یوښکری آس ګرځېده، هلته به د ونو پاڼې ښکلې کېدل او ډېرېدل. نیالګو به ډېرې میوې کولې. شینلۍ (چمن) به ښکلې تازه او اوبلن وابښه لرل. بندونکي یا سرخس بوټي به لوړېدل. د ټولو ژوو (حیواناتو) به دا یوښکری آس ډېر خوښېده.



خو یوه ورځ یو ښکاري راغی او دا ښکلی یوښکری آس یې ولید او د ځان سره یې پرېکړه وکړه چې د دغې آس دا ښکلی ښکر به زه حتماً اخلم!



دې ورځې نه وروسته ښکارې ددې آس پسې شو او دا به یې د خپلو سترګو نه پناه کاوه.
کله چې دا ښکلی آس د یوې لویې ونې لاندې ښه کلک ویده وو، ښکاري ورپسې ولاړ او په ملا یې کښېناست او ښکر یې ورته مات کړ.



ښکر یې واخست او لکه د باد په شان منډه یې کړه.



یو ښکری آس د ډېر سخت درد سره له خوبه راویښ شو. دې آس یو څه ډېر بد احساس وکړ او ژر تر ژره یې ډنډ ته منډه کړه.
کله چې آس خپل انځور په اوبو کې ولید، ډېر سخت وډار شو.



دې نه وروسته آس نه غوښتل چې بې ښکره څوک یې وګوري.
دا آس د پټېدو د پاره خپلې سوړې ته ولاړ او بیا هیڅ ونه وتلو.



دآس د ښکر غلا کېدو سره ونو خپلې پاڼې له لاسه ورکړې او نیالګو خپله میوه د لاسه ورکړه. د شینلۍ (چمن) وابښه مړاوي شول.



ټول ژوي (حیوانات) ډېر خپه وو.



ډېرې اونۍ تېرې شوې. یوه ورځ یوښکري آس دا حس کړ چې ددې په اوچولي کې یو څه بدلون راغلی دی.



دا آس د خپلې سوړې ځخه راووت او د ډنډ په خوا يې منډې کړې.



کله چې دې آس خپل انځور په اوبو کې ولید ، نو ډېر حیرانه شو ، ځکه چې ددې په سر کې یو بل نوی ښکر شین شوی وو.



د ډېرې خوښۍ نه دې آس په ځنګله کې دې خوا او هغه خوا منډې وهلې.
په ونو کې نوي ښکلي پاڼې شنې شوې. نیالګو ښکلي او خوندوره میوې ونیولې او په شینلۍ (چمن) کې ښایسته اوبلن و اښه ښېرته را شنه شول.



بندونکي یا سرخس بوټي بېرته په لوړېدو شول.



ټول ژوي (حیوانات) د خوښۍ څخه د یوښکري آس شا و خواته نڅېدل.

